ماهنامه لوګر میاشتنی
Logar Monthly
سال تاسیس: ۱۳۸۳هـ.ش
دلوګر ولایت داطلاعاتواوفرهنګ ریاست خپرندویه ارګان

طبراني او ابن النجار له حضرت علي (کرم الله وجهه) نه روایت کوي، چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ویلي دي: تاسوخپلو اولادونو ته درې خویونه ور وښیئ! ستاسو دنبي مینه، دهغه دکورنۍ مینه اودقرانکریم تلاوت. ځکه دقرآن حافظان به د الله (ج) دعرش په هغه سیوری کې له انبیاو او نیکو خلکوسره وي، چې په هغه ورځ بل ځای سیوری نه پیداکیږي.

د افغانستان د اساسي قانون نهه دېرشمه ماده :
هر افغان حق لري د هېواد هر ګوټ ته سفر وکړي او استوګن شي خو له هغو سیمو پرته چې قانون منع کړې وي .
هر افغان حق لري د قانون له حکمونو سره سم له افغانستان څخه بهر سفر وکړي او بیرته راستون شي .
دولت له هېواد څخه بهر د افغانستان د اتباعو د حقوقو ساتنه کوي .

سه شنبه د ۱۴۰۰ هجري لمریز کال د چنګاښ دمیاشتې لومړی؛ د ۲۰۲۱ عیسوي کال د جون دویشتمه
لومړی کال، دریمه ګڼه
پرله پسې (۱۲۳) ګڼه


# په لوګر کې دسنځل ګل دودیزه کلنۍ مشاعره ونمانځل شوه






د غبرګولي ۳ مه : په لوګر ولایت کې دسنځل ګل دودیزه پنځلسمه مشاعره او میله دلوګر داطلاعاتواو فرهنګ ریاست په انګړ کې ونماځل شوه، چې په کې دلوګر والي عبدالقیوم رحیمي، د ولایت دفرهنګي چارو مرستیالې رابعې ستانکزی، داطلاعاتواوفرهنګ رییس عبدالرحمن تسل د دولتي ادارومسؤلینو په ګډون؛ فرهنګیانو، شاعرانو، لیکوالانو، د ادب مینوالو،ځوانانو او خبریالانو برخه اخیستې وه .

دمشاعرې له پیل مخکې په لنډه توګه دسنځل ګل په تاریخچې ویډیویي مالومات چې دلوګراطلاعاتواوفرهنګ ریاست لخوا چمتو شوي ؤ ګډونوالو ته وړاندې شول . دسنځل ګل مشاعرې ګډونوالو ته داطلاعاتواوفرهنګ رییس عبدالرحمن تسل ښه راغلاست ووایه .

عبدالرحمن تسل دسنځل ګل مشاعرې اصلي موخه د فرهنګ بډاینه دځوانانو ترمنځ یوالی، ورورګلوي او همغږي یاده کړه، ویې ویل، چې په اوسني وضعیت کې ولس یوالي لورې ته راوبلل شي او د شته ناخوالو د له منځه وړلو لپاره ولس دسولې غږ پورته کړي .

لوګر والي عبدالقیوم رحیمي دمشاعرې ګډونوالو ته وویل، مشاعرې او ادبې ناستې دیوالي او پرمختګ سبب کیدای شي او ټولنه د سمون لورې ته بیایي.

لوګر والي؛ دشاعرانو، ادیبانو، لیکوالانو او ځوانانو رول د هېواد د آبادۍ په لار کې دقلم له لارې مبارزه یاده کړه، ویې ویل، چې همدا قشر دفکرونو د روښانتیا او فکرونو په جوړونه کې ارزښتمن او ګټور ثابتیدلای شي، چې د هېواد په پرمختګ کې لاس په کار او هېوادوالو ته دخدمت جوګه وګرزي .

والي شاعرانو ته یادونه وکړه، چې دسږنۍ مشاعرې ټول شعرونه راټول او دکتاب په بڼه دې خپاره کړي او په راتلونکي مشاعرې کې دې پر خلکو وویشي .

مشاعرې کې د لوګر ولایت شاعرانو مستري زلمي ستانکزي، محمدنذیر زاهد، حلیب ګل ملال ، سیف الرحمن غریب یار اونورو... په خپلو شعرونو کې دهېواد په اوسني وضعیت ، ملي یوالي ته کار، خپلمنځي روغه جوړه، په هېواد کې دتلپاتې سولې راتګ، دحکومت په کړنو سالمې نیوکې او نورو برخو ته ځای ورکړی ؤ .

شاعرانو په خپلو شعرونو کې د جګړ ې نه کرکه او په هېواد کې د تلپاتې سولې کلمې ځای کړې وې او د شعر په ژبه یې ګډونوالو ته واورول .

شاعرانو په شعرونو کې دجګړو په ښکېلې خواوو غږ وکړ، چې دافغان ولس هیلې ته دې رسیدنه وکړي او په دې ځوریدلي ولس دې دسولې زېری ولوروي .

ځیني نورو شاعرانو د لوګر او سنځل ګل په وصف او توصیف باندې هم شعرونه واورول. همداراز طنزي شعرونه په یاده مشاعرې کې شاعرانو ولوستل، چې دمشاعرې ګډونوالو لخوا په چکچکو بدرګه کیدل .

دسنځل ګل دمشاعرې په ویاړ دلوګر داطلاعاتواوفرهنګ ریاست لخوا دکتابونو، دقدیمي توکو او د رسامۍ او خطاطۍ تابلوګانو نندارتون جوړ کړی ؤ ، چې پکې سلګونه ټوکه ښلابېل کتابونه، لرغوني آثار او په لاس لیکلي هنري تابلوګانې په دغه فرهنګي او هنري نندارتون کې اېښودلې ؤ ، همداراز په مشاعره کې د لوګر سیمه ئیزې موسیقۍ کنسرت هم ګډونوالو ته وړاندې شول .

پاتې دې نه وي، چې دمشاعرې په پای کې دلوګر داطلاعاتواوفرهنګ ریاست لخوا شاعران او لیکوالان په ډالیو او سوغاتونو باندې ونازول شول .

# آموزش

## کارگاه آموزشی دوروزه پیرامون رهبری، میانجیگری ومذاکره پایان یافت

کارگاه آموزشی دو روزه پیرامون رهبری، میانجیگری و مذاکره که از سوی موسسه پروموټ وبه همکاری ریاست اطلاعات وفرهنگ لوگر راه اندازی گردیده بود به تاریخ 6 جوزا پایان یافت که در آن درحدود بیست تن شرکت ورزیده بودند.




در این کارگاه آموزشی ازسوی استادان مجرب و ورزیده در مورد رهبری، میانجیگری و مذاکره به شاملین برنامه طی دو روز معلومات مفید و ارزشمند پیشکش گردید.

عبدالرحمن تسل رییس اطلاعات وفرهنگ لوگر به راه اندازی همچون برنامه ها تاکید کرد و گفت که اصل مذاکره و میانجیگری در حل منازعات واختلافات نقش کلیدی دارد و همچنان جوهر رهبری سالم ودرست جامعه رابسوی رفاه وآسایش سوق خواهد داد.

قابل یاد آوری است که شاملین برنامه موارد پیشکش شده این کارگاه آموزشی را در قرا وقصبات نیز خواهد رسانید تا میانجیگری و مذاکره در حل اختلافات ممد واقع گردد.

## ساختمان یک مکتب در لوگر به بهره برداری سپرده شد

ساختمان مکتب دخترانه مومند در ولسوالی بره کی برک لوگر به بهره برداری سپرده شد .

شاهپور عرب سخنگوی ریاست معارف لوگر می گوید که ساختمان این مکتب به هزینه بیش از شش میلیون افغانی از سوی برنامه اقرا دریک منزل ساخته شده است .

وی علاوه کرد که این تعمیر دارای هشت صنف درسی، دو اطاق اداری وشامل سایر ملحقات ضروری آن می باشد که در دو وقت گنجایش بیش از هشتصد دانش آموز را دارا می باشد .

سرمؤلف سید عزیز احمد هاشمي رییس معارف لوگر از باشنده گان محل خواست که در نگهداشت تعمیر مکتب و فرستادن فرزندان شان به مراکزتعلیمی تلاش نمایند .

قابل یاد آوری است که قبلاً هم از سوی برنامه اقرا چندین مکتب در لوگر نیز به بهره برداری سپرده شده بود .

## مسجد جامع مرکز لوگر به بهره برداری سپرده شد

مسجد جامع مرکز لوگر که گنجایش سه هزار نماز گزار را دریک وقت دارا می باشد به تاریخ 4 جوزا از سوی محمدعمر مرجان معاون والی لوگر وبرخی مسوولان دیگر افتتاح وبه بهره برداری قرار داده شد .

میرزا آقا ستاری مسوول پروژه های مرکز لوگر به آژانس باختر گفت که کار ساختمان مسجد جامع مرکز لوگر را شرکت ساختمانی بنایی در دو سال تکمیل نموده است.

وی افزود، این مسجد به همکاری مالی ادارهٔ عملیاتی و حمایه یی انکشاف ملی ریاست جمهوری کشور به هزینهٔ شصت و شش میلیون افغانی مشمول محوطه آن در مساحت ده هزار متر مربع زمین در دو طبقه به شکل پخته واساسی ساخته شده است که در یک وقت گنجایش سه هزار نماز گزار را دارا می باشد .

باشنده گان شهر پل علم لوگر درکنار سپاس و قدر دانی از ادارهٔ عملیاتی و حمایه یی انکشاف ملی ریاست جمهوری کشور، ساخت همچون مسجد ها و کارهای زیر بنایی را در امور دینی و یکپارچگی افغانان ارزنده عنوان کردند وبه ساخت همچون پروژه ها تاکید نمودند .

گفتنی است که ازسوی ادارهٔ عملیاتی و حمایه یی انکشاف ملی ریاست جمهوری کشور کار ساخت یک جمنازیم و یک صالون فاتحه خوانی در مرکز لوگر نیز تکمیل و مورد استفاده قرار گرفته است، هم چنان کارساخت یک –یک مسجد در ولسوالی های لوگر، اعمار مهمان خانهٔ لوگر ، ساخت یک سرد خانه که کار آن در مرحله تدارکاتی قرار دارد و ساخت انتظار خانهٔ شفاخانهٔ برکی راجان و شفاخانه کنجک لوگر را نیز زیر کار دارد.



## لوګر کې د چاپېریال ساتنې اونۍ ونمانځل شوه



د غبرګولي ۱۹ مه :هغه غونډه چې په همدې موخه د اساسي قانون تالار کې جوړه شوې وه، په کې د لوګر والي عبدالقیوم رحیمي سربېره، ولایتي شورا رییس حسیب الله ستانکزي او غړو یې ، ملکي او نظامي ادارو مسوولینو، قومي مشرانو، ځوانانو او ښځو ګډون کړی وو. په لومړیو کې د چاپېریال ساتنې رییس عبدالنادر واحدي د چاپېریال ساتنې د اونۍ په پار د یادې ادارې د مشرتابه د پیغام تر لوستلو وروسته لوګر کې د چاپېریال د څرنګوالي پر تړاو هراړخیز معلومات وړاندې او له ولسونو یې د همکارۍ غوښتنه وکړه. دغه راز د ولایتي شورا رییس حسیب الله ستانکزي هم خپلو خبرو کې د چاپېریال د پاکوالي په برخه کې د خلکو همکاري او ارزښت په هکله رڼا واچوله او په یاده برخه کې یې د هر راز همکاریو ډاډ ورکړ. لوګر والي عبدالقیوم رحیمي وویل؛ موټول د نظافت په برخه کې د اسلام مقدس دین له نظره د الله(ج) پر وړاندې مسوولیت لرو او څوک چې چاپېریال او هوا ککړه وي د الله(ج) په نزد ګنهګار دي.

لوګر والي زیاته کړه؛ د نیالګیو کېنول، د اوبو په مصرف او د نظافت په برخو کې پاملرنه کولای شي د چاپېریال په پاکوالي کې له اړوندو ادارو سره ښه همکاري او مرستندویه واوسي.

## پل علم ښار کې د فاتحې اخېستلوسالون پرانیستل شو

دلوګرمرکز پل علم ښار کې دفاتحې اخېستلو سالون د غبرګولي په ۴ مه پرانیستل شو. د لوګرمرکز د پروژو مسوول میرزا آقا ستاري باختر آژانس ته ویلي؛ چې دغه سالون د هېواد دجمهوري ریاست دملي پرمختیایي عملیاتي ادارې په مالي مرسته د ۲۱ میلیونو افغانیو په لګښت دلوګر مرکز دمامورینو په ښارګوټي کې د ۱۰۰ مربع متره ځمکې په ساحه کې په پاخه او اساسي ډول جوړ شوی دی.



د یاد سالون په پرانیسته مراسمو کې د ولایت مرستیال محمدعمر مرجان، ولایتي شورا غړی سید قریب الله سادات، پل علم ښاروال رفیع الله احمدزي او یو شمیر نورو مسوولینو برخه اخیستې وه.